


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم د نيمو شپو خبرې

ليکوال نجيب عامر

خپرندوی دانش خپرندويه ټولنه

د چاپ نېټه حمل ۱۳۸٤- مارچ 2006

تيراژ ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز پخپله ليکوال

ډالۍ

ننداري ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جانانه ټوله دې په ننګ ولاړه يمه

درنو لوستونکو! دادنيموشپو خبرې چې تاسو په خپلو ګوتو سپړلي ، ګورئ يې ،لولئ يې اوبلاخره خوندورڅخه اخلئ ، دانه يوازې دتاسو لپاره په زړه پورې دي بلکه زما لپاره هم ....... ولې چې دعامر دنيموشپو دخاموشۍ اودتنهايۍ خبرې اوس زما مخې ته سپړل شوې دي - که رښتيا راباندې وايئ څرنګه چې دکتاب له نوم څخه راپيدادی په واقعيت سره داټولې اوټولې دنيمو شپو خبرې، رازونه ، کيسې اوګيلې دي - عامر په تېر دوه کلونوکې دشپې په زړه کې له ماڅخه پټ لرې کېناستلی او دادلفظو نو يوه يوه ملغلره يې دشعر په تارکې اوبدلې ده ، امېل يې ترې جوړکړی چې دامېل يې کله خپلې معشوقې ته په سوغات کې ورکړی اوکله يې هم يو يو يې خپلو هيوادولو ته هم ډالۍ کړی دی - زه چې ګورم دعامر په قلم کې نوی رڼ له ورايه ښکاري ، دهغه شاعري تر پخوا ډېره بدله بدله مالوميږي - هغه غواړي په خپل دې سفر کې نوې منظرې وګوري اوهمداراز دشعر دادب مينه وال هم له ځانه سره يوې نوې تماشې ته کېنوي - دمثال په ټوګه زمونږ ډېر شمير شاعران دي چې هغوی په ښارکې اوسيږي خواوس هم دکلي په ښکلا ګانو پسې ليوني دي ، دهغوی په اند چې په ښاري سيموکې دومره ښکلا نشته اويا دښار ژوند ورته له مينې اوښکلا نه تش ښکاري ، همدا ده چې ټول عمر دګودرنو په غاړو دميني ترې وچ حلق په لپې اوبو پسې ګرځي خودعامر اوسنۍ شاعری يو څه ددې پرخلاف ده ، هغه په شاعرۍ کې دکلي اوګودرونو، دبيديا دکوچۍ نه ترکېږدۍ پورې ، دښار ښکلاوې هم ستايلې دي - هغه داثابته کړې چې دښار په رڼا ګانوکې هم رڼې رڼې ښاپيرۍ شته ،مينه شته ، او ژوند له ښکلا سره پوره مل دی- له بلې خوا عامر پخپلې اوسنۍ شاعرۍ کې تخيل ښه لوبولی ، دهغه خيال دومره اوچت دی چې لوستونکی له ريالستکي ژوند څخه بهر نه اوباسي - زه نور دهغه په شاعرۍ ډېر بحث نه کوم ، يوازې دې مختصرو ټکوته مې اشاره وکړه ، په دې لاره کې هغه ته نوربرياليتوبونه له پاکه خدايه غواړم ، وروستې قضاوتونه تاسوته درپرېږدمه - داهم تاسو اوداهم دعامر دنيموشپو خبرې.......

په درناوي

ورمه سبا عامر

2006مارچ 18مه

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزلونه

دنیا وه توره زړه مې بل ساتلو

هروخت په لاس مې خپل اجل ساتلو

سپینې خامتا ته په تخته حیرانه

دې به کمیس مدام بخمل ساتلو

یوه پره کې هم زه ځای نه شومه

چې خپل ضمیر مې هرځای مل ساتلو

زما چې سترګې به مرغۍ مرغۍ شوې

تا به په ناز رانه څنګل ساتلو

ښه ده باران شو ټوله ومې لیدې

ولې پوړنی دې ململ ساتلو

داګست یوولسمه ۲۰۰۵

پېښور ــ حیات اباد

د خپل منزل ترلوی مزاره به ځو

دکلي خلک یو تر ښاره به ځو

په منډه نه ځو په قلاره به ځو

که لاره نه وي لکه ماره به ځو

نشه به یو خو سر ټیټی نه منو

خیردی که لوېږو خو په لاره به ځو

خو بس یو سر غواړي کوڅه د جانان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځلې نه ! په هزار واره به ځو

لکه شبنم به ګل ته ځان رسوو

لکه د اوښکې تر رخساره به ځو

ځو ملايان به په سولۍ خېژوي

عامره ځو تر دې بنداره به ځو

داګست لسمه ۲۰۰۵

پېښور _حيات اباد

الله په هغو سترګو جادوګرو کې جادو

وه نغښتې يې بلا بلا خبرو کې جادو

اوس ټوله د جانان ده،دووسترګو کې راټوله

پخوا وه د بنګال لارو ګودرو کې جادو

وړې ! ګومان مې نه شي ستا خبرو ته مې پرېږدي

دا ستا د سپينو لېچو په مر مرو کې جادو

داستا د اننګو بوسه مې داسې لېونی کړي

کټ مټ لکه موادو مخدرو کې جادو

شاعر دی چې له خولې نه جنتي سرونه کاږي

فنکاردی چې کوي خپلو سندرو کې جادو

ياران يې ويده کړي په اوده د شاعرۍ

عامر ده خوره کړې سخن ورو کې جا دو

د اګست نهمه ۲۰۰۵

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښور ـــحیات اباد

ستا د سرو شونډو مسکا دانه وانه

کړي زما د زړه دنیا دانه وانه

له هغې چې دې له سترگو یم پرېوتی

زندگي مې ده رښتیا دانه وانه

په یو تار لکه امېل سره یو ځای شه

پښتانه د پښتونخوا دانه وانه

ستا په یو انکار مې زړه تالا والا شو

ستا خو زلفې کړه هوا دانه وانه

راته خپله گنا هم نه ده معلومه

جوړې مونږ شولو ویړیا دانه وانه

ځئ جنډې د مینې پورته کړو په لاس کې

هسې نه چېرته شو بیا دانه وانه

عامر جانه دښمنان دې داسې غواړم

لکه شگې د بیدیا دانه وانه

۲۷ نوامبر،۲۰۰۲

پېښورپوهنتون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

کاینات دې را په شا کړو اوس ټالۍ وهم بې واره

دغه پېټی به تر کومې په اوږو وړمه باداره

زما مخ یې له کفنه را څر ګند کړ بیا یې وویل

واه په دې نوي لباس کې چېرته درومې کلانکاره

چې مو دوه سترګې څلور شي کیفیت یې دومره خوږ وي

لکه اوښه لاس ته راشي په سرو زرو باندې باره

دا چې اوښکې لیدی نه شم ددنیا د مظلومانو

نو بیا څنګه به زه نیسم مخ ته وړاندې مې هنداره

دژوندون تورو تیارو له د موسی مړوند پکاردی

د شینکي اسمان د لاندې ورکه شوې رانه لاره

نو تڼاکو ته د زړه مې وایه کله رسېدی شي

ددې زمکې واړه شګې د اسمان ستوري بې شماره

پېښور ـ پوهنتون

۲۰۰۲اګست۲۳

## غزل

په وروسته چې نه ګوري د پرون سره جوړ نه دي

دا خلک د بې ځایه زړه چاودون سره جوړ نه دي

خوراک شي د لېوانو قافلې بې له ځاروانه

رمې بې لارې کېږي چې د شپون سره جوړ نه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناه کې د بادارو څوکيدار دی چا ترلی

شوګير وهلې سترګې د شبخون سره جوړ نه دي

ناجوړه يې دي زړونه او ناسازه يې فکرونه

هغه چې د هيواد ملي تړون سره جوړ نه دي

لاهم څو غولېدلي د پردو ساز ته نڅيږي

په شپو مين رهزن د سباوون سره جوړ نه دي

هغه قلم دې مات شي او هغه ژبه دې پرې شي

چې وايي هزاره ، ازبک، پښتون سره جوړ نه دي

عامره ددې خلکو عقيده بدلول غواړي

خيام په تيرو ولي او مجنون سره جوړ نه دي

۲۰۰۵، جنوري ۲٦

## پېښور

ګفتار دې د شکرو نه شيرين دی يا اخې

ميلس دې په ټول کلي کې رنګين دی يا اخې

ښکاريږي چې له سره دې دانګلي په سل واره

ډالۍ چې دې شها ته لونګين دی يا اخې

دغم ديوې شېبې تودوخه هم نه شي زغملی

دا تار د ژوندانه دومره مهين دی يا اخې

تر تا رارسيدلي دي د چا د حسن وړانګې

رومال چې دې په لاسو کې وريښمين دی يا اخې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېرو کاڼو زړونو کې به کر د مینې وکړې

روان چې دي له سترګو اباسین دی یا اخې

دا سر به په سر نه وړې که هر څومره زورور یې

د ښکلو دوطن دغه آئین دی یا اخې

چې عین د ځوانۍ مینځ کې دې رنګ ځای له نه رادرومي

لیدلی دې کوم داسې لوی ناورین دی یا اخې

۲۰۰۲نومبر۱۴

جلال اباد

خالقه ما خو بس هم دومره عبادت کړی دی

چې په دنیا کې مې شیخانو نه نفرت کړی دی

بویه چې ستر بدلون به راولم په سر د نړۍ

ما ددنیا د خواري کښو امامت کړی دی

اوس ددې خپلې محرومۍ کیسه به چا چا ته کړم

خلکوته وایمه چې ما هم محبت کړی دی

پرښتو څله مې جېبو نو کې ایمان لټوئ

ما په نېستۍ کې ددنیاځینې رحلت کړی دی

خالقه ته پرې د سرو زرو باران ووروې

چاچې په مونږه غرېبو نیولو شفقت کړی دی

چې زړه مې درکړو ، ناز دې هم وړم ، مینه هم درکوم

ښکلیه خاتم هم کله دومره سخاوت کړی دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښور پوهنتون

پنځم سپټمبر ۲۰۰۲

په شپو کې تر سهاره کېناستل غزل ليکل
عادت مې شو د پېغلو په اوربل غزل ليکل
يوه پانړه که بله واى چارګل مې دجانان و
څه نوې تجربه ده په شوتل غزل ليکل
اى شېخه راته وايه عبادت که رياضت دى
له سترګومرغلرې تويول غزل ليکل
دا څه عادت دې واخېستو عامره بېروزګاره
بې واره په جامونو پرېوتل غزل ليکل

۱مارچ،۲۰۰۲

ننګرهار

سهار له کوره اوځمه ماښام کورته راځم
خو اوس هم لا هماغسې ناکام کور ته را ځم
ګلاب ګلاب سرخي په مخ له ځانه سره وېسم
سورى سورى په زړه لکه بادام کورته را ځم
ياران راته سپوږمۍ په سر قسم راکړي چې وڅکه
زه مست په بنګاوه لکه خيام کور ته را ځم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د لته دي ر ا جمع زما ټولې بد مرغۍ

زه اخلم له خپل ځانه انتقام کور ته را ځم

پا چا یمه تر نیمو شپو بنډار کې د یارانو

بیا غلو غونډې را اوړمه په بام کور ته را ځم

نه کار شته ، نه روزګار شته، د پلار وېره را سره

دانن سبا عامره په ډېر پام کورته را ځم

پېښور پوهنتون

اګست ۲۹،۲۰۰۲

که ګل نه وي له ازغو یې را شروع کړه

دبلبل له ترانو یې راشروع کړه

کیسې ډېرې دي مبهمې په دنیا کې

داجل له تلوسو یې راشروع کړه

بغاوت د زمکې سرنه مزه نه کړي

عین د عرش له منارو یې راشروع کړه

بیا یې ختمه کړه د ستورو په مالت کې

دجبین له شنو خالو یې راشروع کړه

زمانې ته که جلال د مینې ښایې

دخیام له میکدو یې راشروع کړه

مرور لالی پخپله به پوخلا شي

بس د اوښکو له جرګو یې راشروع کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديارحسن که ستايل غواړي عامره

له دې سپينو ا ننګو يې راشروع کړه

داګست دولسمه ۲۰۰۵

پېښور _ حيات اباد

دکب غوندې په حوض کې خوييده سپينه سپوږمۍ

اسمان نه په ډولۍ راکوزيده سپينه سپوږمۍ

دورېځو په ټيکري کې پټ پټوني يې کولې

سهار نه که د لمر نه وېريده سپينه سپوږمۍ

نژدې وه چې د ژوند تودو غرمو ومه وژلی

نصيب مې وه نو ما ته رسېده سپينه سپوږمۍ

شپېې که په پېريو بدلېدې پروا يې نه وه

د مينې په مدار کې څر خېده سپينه سپوږمۍ

ښا يست د دې نرۍ يې و په سترګو کې راټول

دستورو په مالت کې اوسېده سپينه سپوږمۍ

عامره سر چينه يې د ښکلا زما وجو د و

زه لمر ومه چې مانه تاوېده سپينه سپوږمۍ

---------------------------------------------

بلا خلک خبرې کړي ددعا خلک يو څودي

هی!کوم دي ترۍ تم دي مسيحا خلک يو څو دي

په تورو تورو شپو کې پرېوتلي او موتازه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا ته خلک ډېر دي د رڼا خلک يو څو دي

شايد چې يې خلوص وي په زړګي کې زېرمه شوی

ميدان چې وړي له ښاره د بيديا خلک يو څو دي

خالقه! په تخليق کې دې کثرت نه کار اخيستی

چې پوهه په رموز او په مانا خلک يو څو دي

مايل د کفر ډېر دي او پيکر داسلام داسې

تسليم انسانيت ته د هرچا خلک يو څو دي

نا ړامو ، تخريب کارو زمکه ټوله کړه ګلګونه

کرګر دسرو ګلونو د ښکلا خلک يو څو دي

خوشاله ډېر سرونه دي چې سر لري ګرځيږي

مقصد داچې ملګري د مولا خلک يو څو دي

عامره! د بارودو سوداګر دي ډلې ډلې

چې امن ته لېواله دي نو دا خلک يو څودي

2005جنوري 25

پېښور

دستار اود پيکار او هم دکار سړي معلوم دي

بری وړي له دښمنه خو د شمار سړي معلوم دي

چې خاورې په منګول کړي ترې د زرو تمه کېږي

دی ښار که نا پرسانه خو د ښار سړي معلوم دي

باچا! ستا ترچترۍ لاندې ادم نه تر دې دمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددار سړي معلوم دي د سنګسار سړي معلوم دي

دا زمکه خو لا لرې ده اسمان نه هم سوال نه کړي

بې ننګه زمانه کې هم خود دار سړي معلوم دي

يو عمر يې تېرکړی په ډوډۍ پسې په منډه

عامر ته څکه واړه بې روزګار سړي معلوم دي

2005مارچ 2

پېښور

زه او ته چې يو روان په دغه لاره

دا زمونږ درومي کاروان په دغه لاره

کافران مسلمانان له حده ډېر دي

ما ورک کړی دی انسان په دغه لاره

ګلالۍ ! ما اوتا دواړو دي ورک کړي

يو زړګی او يو پېزوان په دغه لاره

دا رڼا اودا برېښنا؟ څه چې ستنېږو

اشارې کوي اسمان په دغه لاره

مادځان دپاسه چتر ګلې بويه

که راګېره کړې باران په دغه لاره

ترې به وپوښتم چې ولې مرور يې؟

که مې وموندلوځان په دغه لاره

دانسان له سيورې لرې تنهايۍ کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا عامر ځي یا پیریان په دغه لاره

2005فبروري 15

پېښور

یو ژوند دی کرشمې د زمانې لري منګول کې

زمونږ دتسلۍ بلا کیسې لري منګول کې

( مغروره ککرۍ مې په سجدو بلده نه ده)

درویش زړه مې خودداره خزانې لري منګول کې

که سترګې دې په جنګ کړې نو وسله به خامخا ږدې

دامینه زوروره زولنې لري منګول کې

جامونه د جانان شهلا نظر ته وایه څه دي؟

چې سترګې یې پخپله میکدې لري منګول کې

داځکه د رنګونو دورشو سندرې وایي

شاعر بویه یو شپون دی چې رمې لري منګول کې

په هاغو لارو نه راځي چې تاته دي معلومې

اجل یو جادوګر دی تلوسې لري منګول کې

رڼا د ملایانو پنډتانو خواکې څه کړي

عامره داڅو تنه دي تیارې لري منګول کې

2005فبروري 13

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغلرې دي مرجان دي ستا په لاس کې

واړه ستوري داسمان دي ستا په لاس کې

داچې خلک د رحمت امېد له تاکړي

داخوښاڅکي د باران دي ستا په لاس کې

جواهر څومره ارزښت لري دنیاکې

جواهر څومره ارزان دي ستا په لاس کې

دل ازاره طبیعت دی خدای درکړی

زړونه څومره پرېشان دي ستا په لاس کې

پیروکار د اهرېمن درڅخه تښتي

قدرتونه د یزدان دي ستا په لاس کې

مریدان به ډېر واړه درته ښکاره شي

ځکه واړه ستر پیران دي ستا په لاس کې

دوو سترګو کې دې دوه نړۍ خبرې

هنګامې د کل زمان دي ستا په لاس کې

2004نوامبر 29

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجنون به خپل مرشد کړمه خیام به خپل جانان کړم

ملګرو! ما به نه ویل یوه ورځ به مو حیران کړم

ساقي مې دې ته جوړ کړو چې سجدې کوي مزدک کې

اوس واردی د ملا چې میکدې ته یې روان کړم

یو داسې درد لرمه په زړګوټي کې دننه

رباب که غېږ کې کېږدمه راښکته به باران کړم

باطلې صحیفې او کتابونه تانه پس شول

دحسن تلاوت به دې هر وخت لکه قران کړم

یو پوځ دترابان دی ګل اندامې درپسې دی

کېږدی د خپل وجود کې به تا هر چا نه پنهان کړم

جوپه جوپه یاران به نوي نوي راپیداکړم

روان به زه د ځان سره د مشکو یو کاروان کړم

زما دوجود سیوری یې هر ځای کې راپسې یې

انسانه تانه تنګ شومه ملګري به پیریان کړم

25 فبروري2005

پېښور

نظر ته مې هر خواته تماشې راغلي دي

که چم ته د کوچیانو قافلې راغلي دي

معلومه شوه فضا ء کې دبارودوبوی کم شوی

په شو نډ و د مر غا نو تر ا نې ر ا غلي د ي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابادي مودېرې شولې ښايسته موګودرونه

په بيرته نن هاتېرې زمانې راغلي دي

ادمه رباب غږېږ ته کړه درځو په انتظار ده

دبام په سر هر خوا ته لوپټې راغلي دي

26 جنوري2005

پېښور

ارمان مې په منګول دی داسې شپې راغلي دي

جانان مې په څنګل دی داسې شپې راغلي دي

راغلی راترغاړه دی نيازبين د زمانې

تک سپين لکه کابل دی داسې شپې راغلي دي

يو ستوري بل خالونه رڼاګانې رنګ په رنګ

خوشاله چاپېرچل دی داسې شپې راغلي دي

کېږدی د حسرتونو يې وجود باندې روښانه

ډېوې په شانې بل دی داسې شپې راغلي دي

وربښمينې زلفې ګوره نن په تا خورې ورې

عامره ژوند بدل دی داسې شپې راغلي دي

26 جنوري2005

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅه به روښانه شي سترګې په جنګ راوله

ځوک خو به ستومانه شي سترګې په جنګ راوله

راز دې له سينې څخه شونډوته برڅېره کړه

څه دنيا به ورانه شي سترګې په جنګ راوله

کاردډنياګۍ څه دی تا سېځه او ما سېځه

خپله به ښپېمانه شي سترګې په جنګ راوله

سترګې ددنيا څه دي زړه دې خاطرجمه کړه

پرېده چې حيرانه شي سترګې په جنګ راوله

دا توري او زغرې دې ځان سره سنبالې کړه

دابه لړه ګرانه شي سترګې په جنګ راوله

2005فبروري 27

پېښور

دوی ځومره زوره وردي هريو کارېې دی په وس کې

ياران له ما بهتر دي ځکه ښکار يې دی په وس کې

ها ښکلې جادوګره کرشمې لري منګول کې

اقرار يې دی په لاس کې او انکارېې دی په وس کې

رمې رمې ښکلا يې په سازونو کې ده نغښتې

شپونکی يار مې اتل دی يکه زار يې دی په وس کې

ځپې د سين به سپيني وي خو داترې کمه نه ده

ځارونکی بختور دی چې دا ځار يې دی په وس کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----------------------------------------------

کاینات دې راپه شاکړو اوس ټالۍ وهم بې واره

دغه پېټی به ترکومې په اوږو وړمه باداره

زما مخ یې له کفن نه را څرګند کړ بیا یې وویل

واه په دې نوي لباس کې چېرته درومې کلانکاره

چې مو دوه سترګې څلور شي کیفیت یې دومره خوږ وي

لکه اوښه لاس ته راشي په سرو زرو باندې باره

دا چې اوښکې لیدی نه شم ددنیا د مظلومانو

نو بیا څنګه به زه نیسم مخ ته وړاندې مې هنداره

د ژوندون تورو تیارو له د موسی مړوند پکاردی

دشینکي اسمان دلاندې ورکه شوې رانه لاره

نو تنځاکو ته د زړه مې وایه کله رسېدی شي

ددې ځمکې واړه شګې داسمان ستوري بې شماره

2002اګست 23

پېښور

د مرغلرو خریدار دې کړمه

خالقه ! اوس ایله په لار دې کړمه

ما و ژوندون لکه د باز تېر کړی

ظالمې خنګه را ایسار دې کړمه

زرې زرې بنګړي بنګړي دې کړمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشه نشه خومار دې کړمه

په توره خوله تورې خبرې کوې

ملا ددين ځينې وېزار دې کړمه

په کج روۍ مې هم موسکی ښکارېږې

اسمانه داسې ښکارې يار دې کړمه

ما د څو ښکلو خپلولي غوښتله

شکر په دې کالو سينګار دې کړمه

د خوبرويانو ډلې څنګ ته راځې

سم د رحمان بابا مزار دې کړمه

2003اکتوبر

پېښور

له دنيا نه مې زړه تور دی پرې ذاتې

ښه ده ستا غېږ کې مې کور دی پرې ذاتې

چې ستا زلفې سايبان دې پر ما باندې

په مالت کې داسې شور دی پرې ذاتې

زما مخ به د لمر مخو تکل نه کړې

دا اوربل چې دې را خور دی پرې ذاتې

لکه ستا په سپين جبين واړه خالونه

هر دښمن مې داسې تور دی پرې ذاتې

بيا دې څنګه سپموې جام د سرو شونډو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې راپورې داسې اور دی پرې ذاتې

غنیمت دی چې یو بل ته مو غېږ ورکړه

دنیا پرېږده سرې خور دی پرې ذاتې

کرشمې دې د ستم را باندې کم کړه

پام خو وکړه مخکې ګور دی پرې ذاتې

په مړو سترګو به هېڅ چاته نه ورګورې

هر سړی دلته میخور دی پرې ذاتې

ستا عامر خو له بنګړیو ځینې جوړ دی

زورورو سره زور دی پرې ذاتې

2004اپرېل 5

پېښور -ګلبرګ

په او ښکو لونګینه او شیرینه زندګي ده

جانانه! بلا ډېره نازنینه زندګي ده

ترشنه اسمان دلاندې او تر خړې ځمکې پورته

بغیر له میني څه دي خو بس مینه زندګي ده

دشنو بنګړیوباردی خیال به ډېر ساتې جانانه

د ځان په خبر دې ګوره چې مهینه زندګي ده

په غرونو او رغونو به داستا په تکل ګرځم

پرې دا ستا په سر خو مې تر چینه زندګي ده

یاران کنګل نیولي دي دمینې لمر په کار دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانن سبا کابل کې هم واورینه زندګي ده

مرګ څه دی د رنګین ژوندون په لوري یو قدم دی

یو شین تصویر راښایي څه خوشبینه زندګي ده

څوک مسک دي څوک ژړېږي داهرڅه ورته ښکارېږي

عامره تماشه کړي تماشبینه زندګي ده

2004اپرېل 5

پېښور - ګلبرګ

تانه ځار په هزار وار شم پري ذاتې

خدای دې وکړي چې په لار شم پري ذاتې

دامې هیله د خاطر چې دې ګرم نه کړې

کله کله که په قارشم پري ذاتې

که جنت کې داویا حورو سردارشم

بیا به هم ستا طلب ګار شم پري ذاتې

که دې تاج په سر کې نه شوم دامې هوډ دی

ستا په پښو کې به پیزار شم پري ذاتې

که دې پرېوتم له سترګو نو بیا بویه

له کړم به را ګوذارشم پري ذاتې

ځان به هله سرخ رو په جهان بولم

که سرخي دې د رخسار شم پري ذاتې

ته چې داسې په مړو مړو سترګو راګورې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي زر به زه بيمار شم پري ذاتې

تصور دې ټوله شپه راسره مل وي

تر هغې چې را بيدار شم پري ذاتې

درويزګر به شم خو تا به خواره نه کړم

يو ځل بيا که بې روزګارشم پري ذاتې

2004اپرېل 5

پېښور - ګلبرګ

د ژوند د رنګينيو په تکل يوه جينۍ

حالاتو څومره زر کړله بدل يوه جينۍ

بربښنا يې د وجود ده چې زړګی مې شو ملال

تل اغوندي پوړنی د ململ يوه جينۍ

هغه لحظه په خدای چې وي معراج زما مقام

ما څنګ ته رانزدې کړي په څنګل يوه جينۍ

اسمانه دامنم چې دې ځواني راسره وکړه

دا څه ووچې شوه رامه لکه ګل يوه جينۍ

دادومره ډېره مينه يې په خوب نه وه ليدلې

عامر وه خوښه کړې په اټکل يوه جينۍ

2004مارچ 29

پېښور _ ګلبرګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښکلو په مالت کې ډېر په پام له کوره اوځم

دوېرې په تعظیم په احترام له کوره اوځم

ها ستا د تور اوربل لاندې شپې بیا یادومه

دا زه کله نا کله چې ماښام له کوره اوځم

ځواني که مې لاهو کړمه بیا هم به پوره نه شي

تکل کې د یو داسې لوی مرام له کوره اوځم

هرڅو که مې ژوندون دی تنهایۍ له ډالۍ کړی

خو سترګې راپسې دي په ناکام له کوره اوځم

زما او ستا تر مینځه بلا ډېرې مجبورۍ دي

عامره ستا لپاره زه په بام له کوره اوځم

2004اپرېل 15

پېښور - ګلبرګ

تا سره د ژوند په یوه لاره چې روان شومه

ډېرې قافلې راپسې درومي اوس څاروان شومه

ګل که د ګلاب یې په شمله کې به دې کېږدمه

پل که پر ما ږدې نو دادی رېګ د بیابان شومه

وه د ګلو لښتې په ځیر ځیر به درته ګورمه

نه ډارېږم ستا له سترګو دومره پالوان شومه

نور مې ددنیاسره پښتو هر ځای پاللې ده

ستا د غصې وړاندې لکه پاڼه د خزان شومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دم ګړی ته بویه که اجل هم هرکلی وکړي

ستا کوڅې ته راغلم بیرته تلو باندې شپېمان شومه

ګل به یې عامره خو بلا تندې نیولی یې

زه لکه اوبه دا ستا په لوري درروان شومه

2004اپرېل 15

پېښور ـ ګلبرګ

او کنه چې شونډې یې پلمو سره بلدې دي

ځکه زمونږ هیلې ورکېدو سره بلدې دي

غل نه یم رهزن نه یم خو څه وکړم شاعر یمه

سترګې مې شوګیر د تورو شپو سره بلدې دي

تاته که مې بده ورځ هم وژاړم فایده څه ده ؟

ستا خو اننګې د خندېدو سره بلدې دي

سره راځې که تور راځې خو بیرته خامخا به ځې

دا حجرې ز مونږ د مېلمنو سره بلدې دي

و خت که خپل ازمېښت کوي عامر او په فرهاد باندې

داد غرو ډبرې رغړېدو سره بلدې دي

2005اکتوبر 6

حیات اباد � پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندري جامو کې راغله په سندرو یې مین کړم

ښاپېرۍ د باغ ارم وه په وزرو یې مین کړم

ملا ستا په شانې نه وه چې ښکنځل په ایتو کړي

یوه مسته ګل غو ټۍ وه په خبرو یې مین کړم

زه پخپله غرنی یم خو دا چارې د کو چې دي

په غو زانو ،په مماڼو ،په ګور ګورو یې مین کړم

لېونی به را ته ویلې چا له ناز نه لېونی شوم

د میالي صیب د زیارت په منجورو یې مین کړم

بلا ډېر مزل په وړاندې بلا ډېر خنډونه مخکې

لکه سین د کونړ سین یم په ډغرو یې مین کړم

2005اکتوبر 18

حیات اباد � پېښور

## د نیمو شپو خبرې

تورتم کې خاموشۍ کې ها د نیمو شپو خبرې

په یاددې دي کېږدۍ کې ها د نیمو شپو خبرې

شېلې د غرو لمنې زه اوته غاړه په غاړه

د شپون خوږې شپېلۍ کې ها د نیمو شپو خبرې

ما ښام دې په ګودر کې دهمزولو سره وکړې

په څومره سادګۍ کې ها د نیمو شپو خبرې

له قندو نه خوږې وې لاتر اوسه مې دي یادې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وېره په بلې کې ها د نيمو شپو خبرې

مونږ دواړو حال ونه وی خو بيا هم شوې مشهورې

په ټوله د نيا ګې کې ها د نيمو شپو خبرې

اورېدې به تر هغې شوې چې اذان به ملا وکړو

عامره په ځوانی کې ها د نيمو شپو خبرې

2005اکتوبر 22

پېښور- حيات اباد

سپوږمۍ غوندې جانانه له هوانه يې راغلې

ښکلا ته ددې زمکې له اسمانه يې راغلې

چې ټولې معجزې دې په ورغوې کې ساتلې

ښکارېږې د بنګال له کليسا نه يې راغلې

جالبه ده د ښار واټونه ټول په تا رڼا دي

ادعا کړې چې کوچۍ يې له بيديا نه يې راغلې

ته زېرې د ژوندون يې په والله اب حيات يې

وه مرګ په تا حرام شه کومې خوا نه يې راغلې

په ما دې ځکه فرض دی تلاوت چې مسلمان يم

ته هاغه صحيفه يې چې الله نه يې راغلې

2005اکتوبر 22

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اکرام الله ګران په لیکه:

ژوند ډک له کړلیچونو دی ارمان پکې ژوندون دی

دنیا ډېره بدرنګه ده جانان پکې ژوندون دی

له کله چې د ښار خلکو دمینې غېږ راکړې

اوس کلی خونړی دی راته ګران پکې ژوندون دی

دسر په بیه ژوند کوو خو سر زمونږ په څو دی ؟

دنیا ده ډېره ګرانه خو ارزان پکې ژوندون دی

بمونه ایټمونه اوس فیشن دي په دنیاکې

دمرګ لومې خورې دي اوحیران پکې ژوندون دی

سوکړه سوکړه دمینې په دنیا کې چاپېرچل دی

شپبه شپبه له سترګو نه باران پکې ژوندون دی

## اختر

زما دوطن پېغلو ته ډالۍ یې دي راوړي

اختر یو بنجاره دی خوشالۍ یې دي راوړي

د ستورو ستارې به پېغلو جونو باندې وېشي

یو شرنګ به شي لمنو ته پاولۍ یې دي راوړي

دچټو سپینو پېغلو په ټټر به ځونډې زانګي

وړمې لرې لونګ ګېڼۍ ګېڼۍ یې دي راوړي

دروایې خلئ پکار به شي ددنګو ښکلو غاړو

د سپینو مر غلرو غاړکۍ یې دي راوړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلرې وطنونو مساپر یې سره ټول کړل

باران دی د سین غاړې ته هیلۍ یې دي راوړي

ځوانان به سره وکاندي د مینې مجلسونه

عامره چې وختونه د ځوانۍ یې دي راوړي

3 نومبر2005

پرده دې دمینوشي رڼا پویول غواړي

بې وخته اذان ونه کړي ملا پویول غواړي

لونګ دې په سینه کړي سنځلې په لمن کې

داغرونه دا رغونه دا بیدیا پویول غواړي

شرطونه ولورونه او بندېز هم په کوکنارو

ادې دې زوروره ده بابا پویول غواړي

غرور یې دومره ډېر دی په اسانه نه پوهیږي

د ټولو نجونو میره په بیا بیا پویول غواړي

تختوته یې د ډېرو په تخته دې بدل کړي

باور دې په وزیر نه کړي پاچا پویول غواړي

مجنون شړي بیدیا ته او منصور خېژوي دار ته

ناپویه ده کم عقله ده دنیا پویول غواړي

22 نومبر2005

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سکر وټو وريتېده چې ته زما وې

دنيا خود به سوځېده چې ته زما وې

د هندوانو په باور په تېر پړاو هم

راته داسې ښکارېده چې ته زما وې

داد خلکو ګوتنيونه ما او تاته

دا به خامخا کېده چې ته زما وې

لويول او پويول دې په خپل ځای خو

مور دې هسې ځارېده چې ته زما وې

2006فبروري 11

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظمونه او ازاد شعرونه

### دنیا

د نیا چړې تېرې تېرې گرځوي

د نیا د مینې د و فا د ښمنه

دا دابلیس په څېر څېرې بدلوي

د ا د آ د م د ا د حو ا د ښمنه

دا په وزرو کې بارود پټوي

داد کوترو په جامه کې راځي

د ماشومانو نه ډوډۍ تښتوي

لکه ملنگ په ماښامه کې راځي

دنیا په لاس کې تېره غشي لري

دنیا کمان دنیا لینده په لاس ده

ددغو غشو مخنیوی زړگیه

یو د الله ،نه د بنده په لاس ده

دا کېږدۍ وال چې له محله وژني

دا محل وال به آخر کله وژني

دغه نادودې چې دې ولیدلې

ددنیا غم به دې پخپله وژني

دا محلونه ، مینار و نه وینې

چې یې هندارې په پردو پو ښلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردې شا ته هاغه څه کېږی چې

په تصور کې هم تا نه لیدلي

دنیا لمن لمن غمونه لري

په تا یې وېشي هم پر مایې وېشي

خو د سکون پیمانې لرې ساتي

هغه پر مونږ نه ، پر بېدیا یې وېشي

ته که یې غلی دنیا چغې وهي

ستا درازونو په تکل کې اوسي

ستا کمزوری نه خپله ګټه اخلي

دغرضونو په ځنګل کې اوسي

دنیا وړه خامي هم نه شي زغمی

الله دې تا ورته مجبوره نه کړي

که یې یو څه په تا کې و موندل نو

پرېږدي دې نه چې مشهوره نه کړي

2005اکتوبر 19

حیا ت اباد � پېښور

---------------------------------------

## بدلون

په دشتونو په راغونو

کېږدی اوس هم ښکلې ښکاري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رمو پسې روانه

کوچۍ اوس هم ښکلې ښکاري

رڼا اوس هم تجلې کړي

سپوږمۍ اوس هم ښکلې ښکاري

---

لاهم خوند کوي په بڼ کې

د مرغيو اوازونه

ځومره ښه ښکاري سيالۍ کې

چې اتڼ کړي زلمي جونه

موسيقي ده جادوګره

خوشاليږي پرې روحونه

---

لامې هم جنګ نه نفرت دی

لاهم زړه کې لرم مينه

د زړګيو په شوديارو

راته ګوره کرم مينه

---

کله خوښ کله خپه يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها دبرکلي پاچا نه

چې او س هم زه مرور شم

ډالۍ لېږي له اسمانه

دا زما لېونتوب ګورې

هغه هم دی پرې حیرانه

خو بس دا چې مې اشنا دی

پر ما ډېر دی مهربانه

---

هغه وېره چې مې مله وه

د الله له بندګانو

هغه اوس هم راسره ده

با وجود د رڼا ګانو

---

چې دا هر څه هاغه شان دي

او زه هم په هاغه شان یم

نه پخوا دومره شته من وم

او نه اوس د کلي خان یم

چې د چا په وس کې نه وي

کله زه بیا دومره ګران یم

چې هر څوک مې اخیستی شي

کله زه دومره ارزان یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ژړېږمه خندېږم

دا په دې چې زه انسان یم

---

نو زما ګرانې محبوبې

تاته ولې بدل ښکارم

چې د سترګو پکارنه وي

تاته هاغه کچل ښکارم

نه ردیف لري نه بحر

تاته هاغه غزل ښکارم

دا سهي ده په سر سترګو

ستا ښایست ته به غل ښکارم

---

تا د لمر په لور کتلي

سهارچېرته ماښام چېرته

ولې بیا له ما تپوس کړې

تکلیف چېرته ناکام چېرته؟

---

کله یوشان کله بل شان

دا خو ژوند دی یو مزل دی

ګلې بیا ولې خپه یې؟

ستا عامر که لږ بدل دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جولايي ۳۱مه کال ۲۰۰۵

پېښور - حيات اباد

---

## مرګه مرګه ځواني مرګ شې

مرګه مرګه ځواني مرګ شې

او اخته دځان په وير شې

ته مفلس د زمانې شې

او د دوو ټکو فقير شې

ته را پرې اوځې له زوره

پهلوان چې پاتې نه شې

دمرګي په سفر لاړشې

په جهان چې پاتې نه شې

ماشومان بچې دې مړه شه

چې د پلار په درد خبر شې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته ناوې دې مړه شه

چې دیار په درد خبر شې

په سر خوړي باندې مړشې

ډیسپرین په تا حرام شه

یا د شوګر یو مریض شې

چې شیرین په تا حرام شه

دانو څه انسانیت دی

هره ورځ پرما یلغار کړې

دګرېوان نه مې رانیسې

او لمن راته تار تار کړې

دجمال نه ناخبره

په ګلانو باندې پښې زدې

ړوند خو نه یې چې ته داسې

ماشومانو باندې پښې زدې

کله مور راځینې وژنې

کله برید مې پر بابا کړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له ځانه راته ګران دي

له هغو نه مې جدا کړې

مرګه لاس ته که مې راغلې

تا محبس کې بندومه

دمرغۍ غوندې دې هر وخت

په قفس کې بندومه

د ویرونو سوداګره

تا جرګې ته کېنومه

ځان له زه به هلته نه یم

په تا کلی خبرومه

ملامت به خامخا شې

چې حساب درسره کړمه

ستا سزا به خودکوشي وي

تا په دار به خېژومه

خو ته هم لکه همایې

دا ستا سیوری رانه ورک دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه ستا کلي ته درشم

چې ستا لوری رانه ورک دی

مرګه مرګه ځواني مرګ شې

او اخته دځان په وير شې

ته مفلس د زمانې شې

او د دوو ټکو فقير شې

2005جنوري 25

پېښور

## ما ياران هېر کړي نه دي

دا منم چې د حالا تو په منګولو کې راګېر يم

دا منم چې په قطار د لېونيانو کې زه شمېر يم

خبر نه يم په ارزښت کې نيم سېری يم او که سېر يم

قرباني که مينه غواړي دادی سر نه مې زه تېر يم

د ژوندون په امتحان کې ما ياران هېر کړي نه دي

د سکروټو په باران کې ما ياران هېر کړي نه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د دوو سترګو لپاره بلا سترګې کړلې هېرې

په دا وور ګنا خو ګورې دیدنۍ شوې په ما تېرې

چې پرانیستې غېږه راشي ها یاران وینمه چېرې

انسانان را ځیني تښتي یم حیران ددوی له وېرې

دستم په دې میدان کې ما یاران هېر کړي نه دي

د سکروټو په باران کې ما یاران هېر کړي نه دي

که څوک ژوند و چا ته ورکړي دادنیا پرې خفه کېږي

که دې مینه چا ته ورکړه دنیا سمه پرې سوزېږي

نادانان ددغې ځمکې بس په دې هم نه پوهېږي

دا رښتې د ژوندانه خو په اسمان کې ترل کېږي

د خواخوږو په فقدان کې ما یاران هېر کړي نه دي

د سکر وټو په باران کې ما یاران هېر کړي نه دي

کله کله ګیله راشي له دې ټولو انسانانو

د خیام له مقتدیانو د مجنون له لارویانو

په دا تېره له یارانو او یو څه مې له خپلوانو

دومره زر هم څوک بدلیږي ځواب راکړئ ظالمانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خوشې بیا بان کې ما یاران هېر کړي نه دي

د سکروټو په باران کې مایاران هېر کړي نه دي

2004نوامبر 11

پېښور

## د ښکلا لټون

له انګلیسي ادب څخه ژباړه::

شاعر John Keats

هر هاغه څيز کې چې ښایست موجود وي

ها لا فاني وي ختمېدلی نه شي

د وخت سره سره دا وده مومي

حسن زیاتیږي کمېدلی نه شي

دالکه یخ سیوری د ګورې ونې

کله چې ستړي شو دمې له ورځو

بیا د خو بونو ددنیا لیدو له

زمونږه هڅه وي هم دې له ورځو

داځکه هر سهار ګلونه شکوو

ترېنه د غاړې غاړکۍ جوړوو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داددنیا سره ترون دی زمونږ

د ګلو هار نه چې ډالۍ جوړوو

څه داسې نه ده د ښایست انتها

منمه دا هم بد رنګو نه ډکه

دې کې بد رنګه خلک هم اوسيږي

دنیا پخپله مایوسونه ډکه

تیاره وختونه هم دلې موجود دي

داطمینان کمی به هم لیدی شي

خو دا زمونږ نه انکشاف غواړي چې

علاج ددې غمونو څه کېدی شي

علاج يې دادی چې لږ فکر وکړو

ددې جهان په ښکلاګانو باندې

چې ښه خیالونه مو زرغون شي زړه کې

هله به پوی شو رڼا ګانو باندې

ددومره ډېرو بد رنګیو سره

یو داسې څیز هم په دنیاکې شته دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروح تيارې لرې کولی شي دا

دمينې راز زمونږ په خوا کې شته دی

دښکلاګانو سلسلې دې دلته

داروا تنده ماتولی شي دا

څنګه جهان کې سوکالي راولو

مونږ ته د راز نړۍ ښودلی شي دا

دا ښکلاګانې به په لمر کې هم وي

هم د سپوږمۍ په پلوشو کې به وي

دا زړې ونې ګورې ګورې ونې

ددوی ديخ سيوري وږمو کې به وي

چېرته چې لمر خپل انتها ته رسي

دونو سيوری هرکلی به وايي

رمې ترې هم لاندې ويدې ښکاريږي

ټپې دمينې بيا شپونکی به وايي

درته به وښايم تصوير د حسن

دا د نرګس ګلونه وينې که نه؟

په شينکي پاڼو کې چې ځان پټوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنزاکت رنګونه وينې که نه؟

داوبو خوا کې د لختي په غاړه
ځکه دوی ځان له کورکي جوړوي
دلمر د تاونه پرې ځانونه ژغوري
دا تدبيرونه تل ژوندي جوړوي

ته د ځنګل مينځ ته نظر واچوه
هلته هم شته دي ځو ګلونه داسې
د غنو بوټو سره ژوند تېروي
ښايي د خپل حسن رنګونه داسې

دا وران کنډر زاړه قبرونه ګورې!
په دې کې هم دي جهانونه اباد
داچې يې مونږه نن يو بل ته وايو
په دوی کې ډېر دي داستانونه اباد

په هر يو قبرکې يو راز پروت دی
د پخوانو خلکو کيسې دي دلته
داچې خاموشه دي غورزنګ يې واهه
خوندي سل قسمه حماسې دي دلته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داښکلاګانې له عقبا راغلي

دمينې ډکې پيمانې دي دلته

دالړه هڅه لړ لټون به غواړي

نه ختمېدونکي سلسلې دي دلته

دا ښکلاګانې په هرچم کې اوسي

دمينې زړه او لوی همت به غواړي

ددوی موندل څه دومره ګران هم نه دي

لړه پالنه د فطرت به غواړي

1999نوامبر 17

پېښور ـ پوهنتون

## ګلالۍ لاس په قسم راسره کېږ ده

ستا ښکلا به مې هم وه يو څه نظر کې

ښاپېرۍ د باغ ارم بدرۍ جمالې

لکه دوه بلبلې غبرګې په بام ناستې

خو ښېدلې مې ستا دوه سترګې ملالې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامنم چې ستا ځواني د بوډۍ ټال وه

دامنم چې دې ښکلا یو قیامت و

بوالهوس نه وم که ورې د جمال وم

که نه ډېرو پېغلو کړی راته ست و

ما ځواني لکه د پېغلو وه ساتلې

که هرڅو مې زړه غوښتل بغاوتونه

څه ورځه د ښار له ښکلو تپوس وکړه

هغه ما چې یې اخیستي ازارونه

چې قدم به مې د کلي په مالت و

لوپټې به نخښدلې په بامونو

ډېرو زلفې غوړولې په دې موخه

چې ما وتړي په ښکلو زنځیرونو

وېرېدلې غرځنی معصومې سترګې

بل په مخ دې د حیا واړه رنګونه

دا هغه وو چې یې تاته درنزدې کړم

دا هغه وو چې یو ځای مو شول روحونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلالۍ چې ګلابي جامو کې راغلې

مانه هېر دې کړل د سرو میو خمونه

تا چې ځای د زړه په کور کې راله راکړو

درنه ځارشه ددې ځمکې ټول ښارونه

مونږ چې بیل ووسره دوه وو تاته یادشي

دا مکاره دنیاګۍ وه ځومره غلې

اوس چې یو شو ډېرې سترګې راپسې دي

ډېرې خولې ډېرې خبرې کړي ناولې

اوازې تر دروازې رارسېدلي

ډېرو مونږ پسې خوړلي قسمونه

که مو خپل که مو پردي دي راپسې دي

داسې وايي چې به مات مو کړي هډونه

ګلالۍ لاس په قسم راسره کېږده

په هم دې لاره قدم راسره کېږده

د ژوندون او د مرګي په هره پوله

درنه ځار پلونه دې سم راسره کېږده

2004اکتوبر 16

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیوریښتوني انسان ریښتینه کیسه:

## ورک شوی پل

موري تنهایمه ډارېږ مه ته چېرته لاړې

یوزوړدیوال یمه نړېږمه ته چېرته لاړې

دسپین بولدک دکندهارهاغه واټونه کوڅې

نن هم خبردي دبابک اوستاله هرې کیسې

څنګه یوبل ته ورنږدې شوئ بې له زروپیسې

تاسې بس دوه دمینې توراودادنیادرپسې

ستاپه کیسه چې زه خبریږمه ته چېرته لاړې

موري تنهایمه داریږمه ته چېرته لاړې

دېرش کاله وړاندې ستاښایست په کندهارکې خورو

په غرورغوپه چم ګاونډپه هربازارکې خورو

په چل زینواودباباولي مزار کې خور و

داڅکزودبارکزوپه هر بنډار کې خور و

زه په صفت دې نه مړېږ مه ته چېرته لاړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري تنهایمه ډاریږمه ته چېرته لاړې

اوریدل کیږي چې بابک هم ګلالی ځلمی و
یومیړنی ویوزړوروګټیالی ځلمی و
تاسره سترګوکې په جنګ و جنګیالی ځلمی و
مینه کې تېرله مال اوتن وتوریالی ځلمی و

زه هم بابک ته پاتې کیږمه ته چېرته لاړې
موري تنهایمه ډاریږمه ته چېرته لاړې

دنیاکه نه پرېښوئ پخپله موکړه لاره یوه
کیسه دمینې موکړه لاندې ترچیناره یوه
بابک کړه کډه پس په خپلواوږوباره یوه
ته ورسره وې لکه حوره وې سینګاره یوه

اوس په مزاردې زه دریږمه ته چېرته لاړې
موري تنهایمه ډاریږمه ته چېرته لاړې

یو کال مو تېر کړلو له خپلو له خپلوانو لرې
هم له زړو زړویارانوله دوستانو لرې
یو ازموینه وه چې وئ له انسانانولرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړه بيدياکې دبشر له دښمنا نو لرې

زه په سختيودې ژړيږمه ته چېرته لاړې
مورې تنهايمه ډاريږمه ته چېرته لاړې

پوره کال وروسته شوئ دوکه دقام سپين ږيرو باندې
څه يې په ژمنو په وعدو او څه خبرو باندې
وودستارونه د فريب يې په ککرو باندې
ملامت نه وئ اوړيدلي وئ بې ځايه په لښکرو باندې

زه هم هماغسې ورکېږمه ته چېرته لاړې
مورې تنها يمه ډارېږمه ته چېرته لاړې

زه د خپل ژوند په لومړۍ ورځ يتيم يسير پاتې شوم
تاسې يې وويشتئ په تورو زه ظهير پاتې شوم
نورو له يې ورکړم د خپلوانو له بهير پاتې شوم
له هغې ژاړمه تر اوسه لا په وير پاتې شوم

زه د پردو سره اوسېږمه ته چېرته لاړې
مورې تنها يمه ډارېږمه ته چېرته لاړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نور دره کې یو لوی خان ته خپل وارث پکار و

یوه مجذوب غوندې انسان ته خپل وارث پکار و

زامن یې نه وو هغه ځان ته خپل وارث پکار و

هغه ساتلو د خپل شان ته خپل وارث پکار و

زه خو ساده نه یم پوهېږمه ته چېرته لاړې

مورې تنها یمه ډارېږمه ته چېرته لاړې

زه چې ځلمی شومه نو خان د ګور په لورې لاړو

زه یې خبر کړم پس له هغې نه بیا هورې لاړو

زه یو ځل بیا شومه یتیم چې هغه مورې لاړو

زه دروغ نه وایم ته خپله خو هم ګورې لاړو

تاته درځمه خو غورزېږمه ته چېرته لاړې

مورې تنها یمه ډارېږمه ته چېرته لاړې

په دې پو هېږم چې ستا پل لاندې جنت دی مورې

د مشرانو دې وینا کې لوی حکمت دی مورې

خو پل دې ورک دی په ما څومره سخت ساعت دی مورې

په دغه ځای کې شو معلوم کوټه مې بخت دی مورې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



درپسې سم لېونی کېږمه ته چېرته لاړې

مورې تنها یمه ډارېږمه ته چېرته لاړې

زه هم په ځان باندې حسینې ښاپېرۍ مین کړم

ساده ساده ومه ساده شانې کوچۍ مین کړم

له سره تېرې یوې داسې لېونۍ مین کړم

مورې رښتیا وایمه زه هم شین خالۍ مین کړم

هغه تا غواړي زه شرمېږمه ته چېرته لاړې

مورې تنها یمه ډارېږمه ته چېرته لاړې

ستاسو په څېر مونږه هم ډېر لرو دښمن ادکې

که لاس ته ورشو مونږ به هم زر کړي دفن ادکې

له مجبورۍ نه ورته پرېښی مو وطن ادکې

پټ مو ژوندون دی له هرچا نه زمونږ نن ادکې

دنیا مې وژني زه پوهېږمه ته چېرته لاړې

مورې تنها یمه ډارېږمه ته چېرته لاړې

2004دسامبر 7

پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یو سیوری -یوه رڼا

بابا زما هم داسې خوښه نه وه

زه دې بت گر شمه بتان جوړوم

داعذابي هنر اسمان راکړی

زه د لفظونو نه انسان جوړوم

زه په تېشه او په سندان جوړوم

لکه اذر واړه خدایان جوړوم

ځمکه لا څه ده چې اسمان جوړوم

هم اهرېمن او هم یزدان جوړوم

هو! ماته یاد شي چې دې ویلې راته

هلکه بس که شاعري مه کوه

دادهرڅا له وسه نه ده پوره

هسې بې ځایه دا خواري مه کوه

ما هم په خدای که به غوښتله داسې

چې رياِضت دې د سندرو وکړم

خو دامې هم پوره په وس کې نه وه

زه دې عمل ستا په خبرو وکړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو د بل چا په پنجو کې بند وم

ښايي چې زه به يې شاعر خوښېدم

زه د سندرو په منتر يې پوی کړم

د هغه ذات به زه ساحر خوښېدم

بابا زما هم داسې خوښه نه وه

زه دې بت گر شمه بتان جوړوم

داعذابي هنر اسمان راکړی

زه د لفظونو نه انسان جوړوم

زه په تېشه او په سندان جوړوم

لکه اذر واړه خدايان جوړوم

ځمکه لا څه ده چې اسمان جوړوم

هم اهرېمن او هم يزدان جوړوم

دابه ازل کې نويشته وه بابا

چې زه په هاغو لارو يون وکړمه

چې ستا بيخي ورسره جوړه نه وه

هاغو رشتو سره تړون وکړمه

د ابادۍ نه دې بيديا ته لاړ شم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې خو یونه د مجنون وکړمه

زه د ښمني دې د شېخانو وکړم

او اقتدا دې د مفتون وکړمه

بس په هم دغې به خپه وې رانه

چې د تسبو سره مې جوړه نه وه

ما خو په بل رنګې پرواز غو ښتلو

د زولنو سره مې جوړه نه وه

داسې خو نه وه چې منکر دې ومه

ګرانه بابا زه له یزدانه ځینې

ما خو به هم ځولۍ ځولۍ غو ښتله

دعا له بره شين اسمانه ځینې

دا ستا په اند به زه بې لارې ومه

خو زه مجبور له دغې چارې ومه

ته په تسبو او په چلتار مين وې

خو زه مين بیا په هندارې ومه

بابا زما هم داسې خوښه نه وه

زه دې بت ګر شمه بتان جوړوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داعذابي هنر اسمان راکړی

زه د لفظونو نه انسان جوړوم

زه په تېشه او په سندان جوړوم

لکه اذر واړه خدایان جوړوم

ځمکه لا څه ده چې اسمان جوړوم

هم اهرېمن او هم یزدان جوړوم

بابا مونږ دواړو ریاضت کړی دی

تا په سجدو الله ته ځان رساوه

زه چې د نۍ په فلسفه پوهېدم

ما په نغمو الله ته ځان رساوه

ښکاره توپیر زمونږ‌تر مینځ مو جود و

خو ته بیا هم وې مهربانه بابا

زه دې دعا نه غور زولی نه وم

که ډېر خپه هم وې زمانه با با

ته لکه ونه په غرمو ولاړ وې

خو مونږ دې سیوري ته دمې کولې

تا ددعا په شپول کې بند ساتلو

مونږ به نو ولې اندېښنې کولې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها شپې د قدر شپو نه کمې نه وې
ته چې زمو نږ د کور ځلا وې با با
بس مهربانه په مونږ ټولو باندې
ته د فلک نه هم سپوا وې با با

تا مې په لار کې تل رڼا کرله
زما دلاس يوه امسا وې با با
ځان درنه هېر زمونږ په مينه کې و
زمونږ د ټولو مسيحا وې با با

ما به تکل د رڼا څه کولو
ته خوپخپله يو رڼا وې با با
ما پرښتې چېرته ليدلي نه دي
خو انسانانو نه بالا وې با با

زه که ژوندی ومه نو ستا له مخې
زما اوبه زما هوا وې با با
که مې يقين په سومنات لرلی
ما به ويل درته دېوتا وې با با

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا زما هم داسې خوښه نه وه

زه دې بت گر شمه بتان جوړوم

داعذابي هنر اسمان راکړی

زه د لفظونو نه انسان جوړوم

زه په تېشه او په سندان جوړوم

لکه اذر واړه خدايان جوړوم

ځمکه لا څه ده چې اسمان جوړوم

هم اهرېمن او هم يزدان جوړوم

زه د تيارو په غېږ کې پرې دې ښودم

ته د يو بل جهان رڼا شوې با با

ولاړ په ټکنده غرمو کې يمه

ځکه ته سيوری د هما شوې با با

اوس هم په خوب کې تسلي را کوې

دا به دميني کوم مقام وي با با

ستا په مزار دې د نورونو باران

زما دعا ده چې مدام وي با با

2002اگست 30

پېښور -پو هنتون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترګې

بس ده ستا ښکلا به ډېره نه ستا یم

بس دی ستا د حسن صفت نه کوم

پس له دې پردو کې دې را نغاړمه

لرې له هر چانه دې زه غواړمه

سترګې د ښکلا په لټون ګر ځې تل

سترګو خو دنیا د خلکو ورانه کړه

سترګو، ستا کابل پرون خوړلی و

حسن یې د ځان ورته غم شوی و

خلکو چې کشمیر ته به نظر و کړو

ویل به یې جنت دی د نړۍ په سر

ودې لیدل سترګو کشمیر و خوړو

دا سې زلزلې ور باندې راغلې چې

هره شېبه زمکه یې ټالۍ وهي

نو اوس هره ګړۍ په دې ډارېږمه

ستا ښایست که داسې تجلې کوي

سترګې ددنیا دې ګلالۍ وهي

اوس په دې خبره رسېدلی یم

ځان که سپیلني په شانې دود کړمه

سترګې ددنیا چې راپسې وي نو

تا به د کشمیر په شان کابل په شان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایگو د نظره کړي وېرېږمه

نو ځکه دې د حسن صفت نه کوم

بس ده ستا ښکلا به ډېره نه ستایم

پس له دې پردو کې دې را نغاړمه

لرې له هر چا نه دې زه غواړمه

2005اکتوبر 19

حیات اباد -پېښور

--------دانګلیسي ژبې د وتلي شاعر پاال پا ټس اوه شعرونه:

**مخه ښه**

چې انکار دې زما له مینې څخه وکړو

نو ما هم کړې تمبې پورې

ستا د خوب خونه مې پرېښوه

دواده ګوتمه مې باندې

درویزګر ته په کاسه کې

په یو شرنګ سره ګوذار کړه

هاغه ورځ زمونږ په ژبو

د خبرو هم سلګۍ وې

چې یو بل ته مو لاس ورکړو

مخه ښه مو سره وکړه

-------------------------------------

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه پړاوه

دا زمونږ د تاریخ پاڼې

دي په دوه برخو وېشلي

یو هغه چې مخکې تېرشو

د عیسی له زېږېدو نه

بل هغه چې وروسته وشول

د عیسی له زېږېدو نه

دغه راز زما ژوندون هم

دی په دوه برخو وېشلی

یو دا ستا تر لیدو وړاندې

یو دا ستا تر لیدو وروسته

----------------------------

## بیلتون

یوه ورځ په لاره تلمه

چې مرگی مخې ته راغی

ها د هاْغه ژوند په څېر و

چې دا زه یې تېرومه

بې له تا نه ای جانانه

--------------------------

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حسن

خلک وايي خدا يه تا ته

کرشمې لرې منګول کې

نو ستا لاس کې دومره نه دي؟

چې زما د زړه ښکلا نه

يوه زره حسن رابيل کړي

او و جود راته حسين کړي

--------------------------

## دويم نظر

ستا په لورې در کتل به

يو ځل بيا به په دغه رنګ وي

لکه څوک چې سترګې بايلي

او بيا بيرته را بينا شي

---------------------------

## مينه

چې دې غېږه کې پرته وي

ها نجلۍ چې ستا ده خو ښه

ته به داسې فکر کړې چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دی زمکې ته راغلی

خو که دغه نجلۍ هم وي

داستا مینې ته لېواله

نو بیا ستا احساس به څه وي

په دې زه هم نه پوهېږم

داسې ما نه دي لیدلي

---------------------------

**سفیر**

محبت دداسې کس چې

ستا د مینې قدر نه کړي

دا نو داسې یوه کیسه ده

لکه ته چې یو سفیر یې

د یوداسې یو هیواد چې

نه یې نوم نه یې نشان شته

----------------------------

**گلاب**

هنرک نور براندټ )ډنمارک(

دامنم چې زه شاعر یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تر دې وروسته محبوبې

تا د مينې په لفظو کې

د ګلاب په څېر نه ستا يم

نور دې نه انځورومه

نور دې نه شم کارولی

ستا وجود تر دې اوچت دی

تر ګلابه ښايسته دی

ته پخپله په خپل ذات کې

څومره ښکلی انجمن يې

----------------------------

**لمس**

میریټې تورپ ( ډنمارک )

چې داستا خبرې نه وي

بيا د چا خبرې نه وي

چې ستا لاس رانه تاو نه وي

لکه کنګل مې وجود وي

ته چې ما ته نه راګورې

بويه سترګې مې ړندې وي

چې ته غږ را باندې نه کړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه څه نا ورمه له چا نه

ته چې کله راسره یې

زه یم ورکه له خپل ځا نه

--------------------------

## یو اړخیزه مینه

### شار لوتي رتلی [ ډنمارک ]

مینه که یوازې له یوه خوا نه وي

دا لکه یو بوټی چې لوی شوی وي

بې له کروندې او بزغلې څخه

سر ددغه بوټي هسکېدی نه شي

هېڅوک هم قفس کې سترېدی نه شي

--------------------------------

## وخت

### بیني اندرسن [ ډنمارک]

په کاله کې مې موجود دي

یو نه ، دولس ساعتونه

خو بیا هم داسې ګڼم چې

وخت زما سره ډېر کم دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاله له پخلنځي نه

چې زه غواړم شيدې راوړم

خپل کمکي شاني بچي ته

خو چې بيرته راستنه شم

هغه دومره وي لوی شوی

چې شېدو ته هيڅ اړ نه وي

هغه بير له ما نه غواړي

هغه نجونو ته هوس کړي

--------------------------------

## د وږيو انسانانو سندره

محمد الجوا هر [ سعودي عربستان ]

ای ډوډۍ ته ارمانجنو!

سترګې پټې کړئ ويده شئ

ها د رزق رسوونکی

دې ساتنه ستاسو وکړي

حيف چې توري دي کمزوري

لوږه نه شي کمولی

خدای دې وکړي چې خوبونه

ستاسو لوږې ته دوا شي

خدای دې وکړي چې ويده شئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وعدو په بسترونو

د سندرو په سورونو

خدای دې وکړي چې په خیال کې

خدای دې وکړي چې په خوب کې

د سپوږمۍ په شانې ګردې

ډوډۍ تاسو ته پرتې وي

---------------------------------------------

## زړه

ولادي میر مایا کو فیسکي [ روسیه ]

ددې نورو انسانانو

زړه سینه کې وي دننه

خو چې زه یې جوړولم

د تخلیق علم خطا شو

بس یو زړه یې را نه جوړ کړو

اوس مې زړه دی چې درزیږي

په وجود کې نه ځائیږي

---------------------------------------------

## چې زه مړ شم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گارسیالو ر کا [ هسپانیا ]

کله چې زه مړ شوم......

دبالکن دروازه خلاصه پرېږده

ها کمکی هلته نارنج خوري.....

د بالکن نه ما ته ښکاري

ها کرگر چې فصل ریبي....

د بالکن نه ما ته ښکاري

نو زما ده وروستۍ هیله

کله چې زه مړ شوم......

د بالکن دروازه خلاصه پرېږده

..........................................................................

**هیله**

رسول حمزه توف [ روسیه �داغستان ]

انسانان ټول جولاگان دي

د خپل سا له نري تاره

د ژوندون تکې او بدي دوی

د هر چا ده خپله برخه

ځوک له دې وړې تکې نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين کفن ځان له تيار کړي

خو زما هيله ده بله

زه به تار د خپلې سا نه

يوه سره جنډه کړم جوړه

چې نشان د خپلواکۍ وي

د کلا په سر رپيږي

..................................................................

## داغستان

ر سول حمزه توف [ روسيه � داغستا ن ]

د سوچونو د خيالونو

له اسمان نه يو څه وړاندې

د واورينو شان غونډيو

له ژورو دريابونو

لږ څه وړاندې هلته مخکې

يوه سيمه ده اباده

چې د زړه په سترګو ځير شم

څومره ښکلی راته ښکاري

دغه ښکلی داغستان دی

زما دميني يو ګنبد دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ژوند يو سرما يه ده

مور مې هم دلته او سيږي

په يوه زړه کوټه کې

ما هم بويه يوه ښخته

د هم دې زړې کوټې چې

زما مور پکې اوسيږي

تر هغې به زه ژوندی يم

چې دا نښي معلوميږي

داغستان راته ښکاريږي

## ګلونه

هنري کانستي بل

ګلان واړه دروېزګر دي

غوړولي يې لاسونه

زما ديار له ښکلو شونډو

مستعار اخلي رنګونه

اننګي د ګلالۍ مې

الله داسې ښايسته دي

چې په بڼ کې ټول ګلونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ټول اوبه اوبه دي

زما يار لكه د لمر دی

ګلان ټول پرې ژوندي كيږي

ځيني ځيني خو له قصده

ورته وګوري زېړيږي

دالاله دی كه ريدی دی

او كه ګل د ارغوان دی

داسرخي چې په كې ښكاري

دغه رنګ مې د جانان دی

رنګ د يار مې پيكه نه كړي

دا زړګی مې پرېشان دی

دا د يار د خولې نفس دی

وږمه نه ده د ګلانو

دغه زمكه چې توده ده

دا تاثير يې د چشمانو

بزغلي يې چې را شنه كړل

دا باران د اوبو نه دی

دا مې اوښكې دي د سترګو

دا زمان د او بو نه دی

خوبونو كې راځه

كرستينا جارجينا روسيتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه راځه په خوب کې راشه راته

ای د امېد یاده

ای د پای ته رسېدلو کالونو میني

اي خوبه ،ښایسته خوبه ، تر ټولو ښایسته خوبه

ارمان چې سترګې پرانېزم او په جنت کې یم

دروحونو په استوګن ځي کې

هلته چې دروحونو ارمانجني سترګې

خلاصېدونکې دروازې ته ګوري

ددروازې دربان.......

باندې وتلو ته څوک نه پرېږدي

دروازه یوازې دننه خواته خلاصیږي

خو ای زما دتېرو کلونو میني!

ما ته په خوب کې راحضور شه

ترڅو د ژوند د باد څپه ووینم

ژوند چې ساړه مرګ رانه اخیستی

ستا په راتلو به ګوندې بیا ژوندۍ شم

چې سا په سا اوخوله په خوله شو سره

خو چې راتلې راته به ورو غږېږې

داسې ورو ،چې پخوا به غږېدې

خو خدابزده څومره پخوا ...........؟.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مستانه هلک

زه ددنگو غرو ها مستانه هلک

ستا دجبین خال پسې روان شومه

ډېرو کلي والو نجونو وویل

لاړمه ښاری شومه او وران شومه

تاته چې نزدې شوم انګېرله مې

خاوره نه یم هسک شومه اسمان شومه

زړه مې د چر چنې نه هم ووړ ،و،خو

مینې سره خدانګو پالوان شومه

..........................................................

بې له سندرماره به زه څه کېدم

زه چې د شپېلۍ سره لوی شوی وم

زړه مې دشیشې غوندې و سپین څکه

زه سپینې ګلۍ سره لوی شوی وم

غره کې به مو ځغاسته په یو ځای کړله

زه وړې کبلۍ سره لوی شوی وم

منډه کې به ولې لومړی نه ومه

زه دغرو سیلۍ سره لوی شوی وم

..............................................................

زه لکه دغره واوره را خوی شومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د ښار په لوري مې مزل وکړو

بس خو ستا تر لېږې مې ځان ورسو

تا سره که ځان سره مې چل وکړو

..............................................................

زه د ښار تیارو کې ورکېدمه خو

ته لکه رڼا هلته ولاړه وې

ما په لوړه بیه رانیولې خو

ته راته ویړیا هلته ولاړه وې

پښې که مې ټپي وې او تڼاکې وې

ښکلې مسیحا هلته ولاړه وې

خدای ګو دوباره دې را ژوندی کړمه

ته لکه عیسا هلته ولاړه وې

سترګې مې موښلې ګوندې خوب به وي

نه ولا ! رښتیا هلته ولاړه وې

............................................................

پرېږده چې دنیا را مخامخه شي

موم نه یمه تیږه یم ډبره یم

ښه چې شم د شاتو میړتون یمه

بدو ته والله یوه ډمبره یم

تریخ که یم دنیا ته چې دښمنه ده

ته خو مې خوږلی شې شکره یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځای به دنيا سره جنګيږو مونږ

تېر مې هم له ماله هم له سره يم

..........................................................

ښکلې خو دا يو احسان په ما وکړه

ما په تورو زلفو کې بندي ساته

بل ځای کې مې سود دزړګي هېڅ نه شي

ما د زړه په کور کې دې خوندي ساته

2006فبروري 4

پېښور - حيات اباد

## د ژورنالست سندره

په ستوډيو کې غلې غلې

يادوم دې نازولې

چې راپور پسې روان شم

سمه ته راسره درومې

که ته ناسته يې په کور کې

خيال کې ښه راسره درومې

مرکه چې چانه اخلم

ستا يو ښتنې راپه ياد شي

مخامخ سړی مې هېر وي

ستا غو ښتنې راپه ياد شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داپوښتنه له تاکړمه

زوروره يې ته ولې ؟

په سټوډيو کې غلې غلې

يادوم دې نازولې

داخبار سرخي ته ګورم

کله زه چې په سهر کې

رنګ مې يو نا څاپه سور شي

ستا د شونډو تصور کې

چې زه سکريپټ کله ليکمه

ستا خبرې را په زړه شي

واړه توري ګډ او وډ شي

چې شکرې راپه زړه شي

بيړني خبر په شانې

زر مې ذهن ته رازغلې

په سټوډيو کې غلې غلې

يادوم دې نازولې

ميکرافون کې چې هلو کړم

مبايل په شرنګېدو شي

چې يې غوږ ته رانزدې کړم

لکه ته په غږېدو شي

چې راپور مې ثبتومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په ستوني کې غړېږي

په څپو د هواګانو

مانه وړاندې ته خپرېږي

زما په زړه دې ښخې کړي

راته ښکاري دي منګولې

په سټوډيو کې غلې غلې

يادوم دې نازولې

ستا د حسن برکت دی

په راپور کې شاعري کړم

زه نو هاغه خبريال يم

چې خبرې باوري کړم

رانه دا پو ښتنه مه کړه

چې يې څومره پر ما ګرانه

دراپور په شان خوږه يې

چې خپريږي له دستګا نه

دراډيو په شانې ښکلې

زما زړه ته يې منلې

په سټوډيو کې غلې غلې

يادوم دې نازولې

2006فبروري 23

پېښور

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**